د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د (متحدالمآلونو) څانګه

نېټه: ۹/ ۱۱/ ۱۴۴۴ هـ ق
مصادف: ۸/ ۲/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادي ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د متحدالمآل ګڼه: ۵۳

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴٤/۱۰/۲۷هق چي د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د ثور مياشتي د اووه ويشتمي (۲۷) نېټي سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د يادي غونډي څلورمه موضوع داسي وه: ((د ماليې وزارت د مکتوب نمبر (RVPO-۵۳) په توسط غوښتنه کړي وه تر څو محاکمو ته هدايت وشي چي د هغو ماليه ورکونکو چي د حکم اطاعت نه کوي او ماليه په خپل وخت نه تحويلوي د هغو د تأديب لپاره دي د مالياتو د چارو د اداري د قانون د (۲۳ او ۲٤) مادې کماقي السابق عملي شي، په اړه يې د ستري محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست نظر ورکړي دی چي د يادو مادو عملي کول د شريعت له نظره کوم مشکل نلري.))

په اړه يې د ستري محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۳۹)مورخ۱۴۴٤/۱۰/۲۷هق د څلورمې پرېکړې په اساس داسي هدايت وکړ: ((محاکم کولای شي چي د مالياتي ادارو د غوښتنې په اساس د هغه ماليه ورکونکو په باره کي چي ماليه په خپل وخت نه تحويلوي، د ممنوع الخروجي او يا هم د مدعی عليه د ملکيت د بندولو قرار صادر کړي.

که چيري ماليات د مدعی عليه د مليکت د عوائدو څخه اجراء کېدلای سي په دغه صورت کي دي د عوائدو څخه د مالياتو د اجراء قرار صادر کړي او که د عوائدو څخه ماليات نه پوره کېدل يا يې عوائد نه لرل د مدعی عليه د ملکيت د خرڅولو ضرورت وو په دغه صورت کي به محکمه د مدعی عليه د ملکيت د خرڅولو هدايت د ستري محکمې د محترم مقام څخه غواړي تر هغه وروسته به د هدايت موافق عمل تر سره کوي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

په درنښت

۹ ۱۱ ۱۴۴۴ هـ ق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومي دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af